**د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پانه:** www.unama.unmissions.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**انجنیر لطیف، د مستندو او لندو فلمو د څلورم نړیوال فیستوال مشر په کابل کی**

**بصیر حمیدی، د مستندو او لندو فلمو د څلورم نړیوال فیستوال همغږی کوونکي په کابل کی**

**داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- دوشنبه د جولای د میاشتی دیارلسمه نیټه ، کال ۲۰۰۹*

## رسنۍ او ټول ټاکنې
یوناما نن ورځ د عمومی منشی د ځانګړی استازی هغه غوښتنه چې د می د میاشتې په ۳ نیټه کړې وه او د رسنیو څخه غوښتلی وو چې په ټولټاکنو کې د یو مساوي او برابره ونډه تامین کړي، یو وار بیا تکراروي. موږ په نږدی تیر وخت کې د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو د کمیسیون مشرتابه ولید او په دې اړوند د افغانستان ملی راډیو ټلویزیون او د نورین ټلویزیون هڅوو چې د رسنیو د کمیسیون د پریکړې درناوي وکړي. موږ په نږدې راتلونکي کې د رسنیو د قانون د چاپ تمه لرو او هیله کوو چې دغه عمل به په افغانستان کې د رسنیو د پرمختګ لپاره یو مثبت ګام وي.

## د لوګر بمی چاودنه:
یوناما هغه بمی چاودنه غندي چې تیره پنجشنبه ۲۰ تنه عام وګړي، د ښوونځی په لور د زده کوونکو په ګډون، یې ووژل. دا وحشیانه وه. په افغانستان کې ملکري ملتونه لا پخوا په ګن میشتو سیمو کې د ځانمرګي بریدونو او تروریستی عملونو په هکله خپله ژوره اندیښنه څرګنده کړی ده. دا به، د بل هر ډول پوځي تاکتیک په پرتله، په افغانستان کې د لا زیاتو ملکی وګړو د له منځه وړلو لامل وګرځی، او باید ودرول شی. د دغه هیواد ملکی وګړي دا حق لري چې د ګواښ او تشدد څخه په امان ووسی.

## د نړیوال خوراکي پروګرام میاشتنی راپور (جون ۲۰۰۹)
د دې کال په جون کې د نړیوال خوراکي پروګرام د کار په مقابل کې خوارو تر پروګرام لاندې ۶۳۰۷۰۰ تنو ته د ۱۱۳۰۰ ټنو په اندازه د خوراکي توکو مرسته کړې ده.

۳۹۴۰۰ تنو د نری رنځ ناروغان او د دوی کورنی هم له نږدې ۶۵۰ ټنه خوراکي توکو څخه برخمن شوی دی چې د نړیوال خوراکي پروګرام له خوا برابر شوی دی. دغه مرستې د دوي په تغذیه کې او دنري رنځ په کموالی کې اغیزمنې ثابتې شوي دي.

نړیوال خوراکي پروګرام ۹۰۴۵۰۰ تنو ته د خوراکي توکو د ویش له لارې مرستې رسولې دي. په دې مرستو کې په طبیعي افتونو کې ګیر قربانیانو ته د اقلي بېځایه شویو خلکو او په ښاري سیمو کې هغو کسانو ته خوراکي توکي شامل وو چې د بیو د لوړوالی او وچکالی څخه اغیزمن شوي وو.

۱،۲۵ میلیونه ماشومانو د نړیوال خوراکي پروګرام خوراکي توکي په ښوونځیو کې تر لاسه کړي، چې په دې کې نجونو شاګردانو ته نوری مرستې هم رسیدلي دي.

په ټولیز ډول ۳۱۵۰ کیلومتره د اوبو لګولو کانالونه، ۴۱۵ د اوبو ویالي (کاریزونه) بېتره ودان شوی دي ۲۵۱۰۰۰ ونې لګول شوې او ۲۷۴ کیلومتره سرکونه د ۲۰۰۹ کال په لومړی څلورمه برخه کې جوړ شوي دي.

## د افغانستان د ماین پاکی پروګرام- عمده او ستر ټکي
د افغانستان د ماین پاکی پروګرام د نوي راپور سره سم له ۲۰۰۸ کال راهیسې ۸۴۰۰۰ د پرسونل ضد ماینونه، ۹۰۰ د ټانګ ضد ماینونه او ۲،۵ میلیونه له جګړو څخه پاتې چاودیدونکي توکي له منځه وړل شوي.

چې د دغه کار په پایله کې له ۵۰ کلیو مترو مربع څخه زیاته د ماینونو او نږدې ۱۱۳ کلیو متر مربع پخوانیو جګړو ساحې پاکې شوې او همدارنګه د هیواد په مختلفو برخو کې ۴۱۷ اغیزمن شوې ټولنې له ماینونو څخه پاکې او وګړي یې خپلو ځمکو ته ورګرځیدلي.

له ماینونو څخه د ساحې د پاکولو په برخه کې، د افغانستان د ماین پاکی پروګرام ۵۴ سلنه ساحه چې د ۲۰۱۱ لپاره د افغانستان د تړون هدف و، بشپړه کړې او همدارنګه یې ۳۸ سلنه هغه ساحه له ماینونو څخه پاکه کړې چې د ۲۰۱۳ لپاره یې د بن د ماینونو تړون غوښتنه کوي.

د خطرونو د شمیر په برخه کې، د افغانستان د ماین پاکی پروګرام ۸۴ سلنه ساحه چې د ۲۰۱۱ لپاره د افغانستان د تړون هدف و، بشپړه کړې او همدارنګه یې ۵۸ سلنه هغه ساحه له خطرونو څخه پاکه کړې چې د ۲۰۱۳ لپاره یې د بن د ماینونو تړون غوښتنه کوي.

## د کلیو د پراختیا او بیا رغوني وزارت د ډاياک د پرمختيايي پروژو ترون لاسليک کړ

له ۱۳۹۷۰ څخه زياتي کورني به د ناقانونه وسله والو ډلو د ړنګيدو يا ډاياک له ۱۱ پروژو څخه برخمني شي چي پرون د کليو د پراختيا و بيا رغوني د وزير له خوا لاسليک شوي. دغه پروژې د ۱۰۶ ميليونه ډالرو په ارزښت دي او درې اجتماعي او کلتوري مرکزونه، دوه لومړني روغتيايي مرکزونه، ۱۲۰ څاګاني، دوه پلونه، تراکتورونه او کانالونه په کي شامل دي.

دغه پروژې به په اوو ولايتونو کي تطبيق کيږي لکه بدخشان، تخار، هرات، فارياب، پنجشير، سمنګان او ننګرهار.

د کليو د پراختيا او بيا رغوني وزارت اوس مهال په ۶۹ ولسواليو کي د ډاياک د پرمختيايي پروژو د تطبيق لپاره تياري نيسي. له دې جملې څخه ۱۱ پرون ورځ د يکشنبې په ورځ لاسليک شوې، ۸ پروژې تطبيق شوې دي، ۲۶ پروژې اوس مهال تر جوړيدو لاندې دي او نورې د تياري په مرحله کي دي.

ډاياک د نوی افغانستان د پيل پروګرام دی چي د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام له خوا رهبري کيږی. ددې پروګرام له پيل څخه چي د ۲۰۰۵ کال د جون په ۱۱ شروع شوی ۶۴۹ ناقانونه وسله والي ډلي ړنګ شوي دي ۷۷ ولسوالی اعلان شوی دي چي له دې درکه ستونزې لرې او په ټوليز ډول ۴۵۲۴۳ وسلې راغونډې شوې دي.

## په کابل کی د مستندو او لنډو فلمونو نړيوال فيستيوال

په داسی حال کی چی يوناما د افغانستان د رسنيو سره کار ته ادامه ورکوي نن موږ سره ميلمانه دي ښاغلی انجنير لطيف او بصير حميدی چي تاسو ته به هغه نړيوال فيستيوال دروپيژنی چي په کابل کی به د دی روانی مياشتی د ۱۸ څخه تر ۲۳ پوری ادامه ومومي.

### انجنير لطيف

زه له يوناما څخه د نن ورځې د بلنې له امله مننه کوم. زه تاسي ټولو ته احترام رسوم. تاسي پوهيږئ چي افغانستان په سينما کي په تيرو وختونو يوه روښانه او د وياړ څخه ډکه سابقه درلوده. د جنګ لسيزو په دی پروسه باندې ډيره اغيزه درلوده، البته موږ په تيرو اوو کلونو کي ځه پرمختګونه کړی دی. زه بايد يوه خبره ياده کړم، چي سره د دې چي افغانستان ته مرستي راغلي دي خو موږ يوه روپۍ هم په سينما باندې نه ده مصرف کړې.

زه بايد ووايم چي افغاني سينما ډيره فعاله ده. او دا د ځوانانو لپاره د دوي د احساساتو د ځرګندولو يو فرصت دی. د دې فيستوال جوړول د دې خبرې ثبوت دی. له ځلورو کلونو راهيسي موږ له دريو سازمانونو څخه مرستي ترلاسه کړی دي. مرستي د فلم د فيستوال د جوړولو لپاره وې، خو د فلم جوړوني لپاره نه وې، دغه درې سازمانونه د بريتاني شورا (بريټيش کونسل) ګوټه انستيتيوت او د فرانسي فرهنګي مرکز وو.

له هر کال سره زموږ تجربې زياتي شوې دي. زه ويلای شم چي د دې کال فيستوال به نړيوالو معيارونو ته ورسيږي او موږ به د سينمايي بين المللي ټولني مرستي تر لاسه کړو.

زما همکار د دې فيستوال همغږي کوونکی به تاسو ته په دې اړه معلومات در کړي. مګر له هغه مخکي به زه تاسي ته ووايم چي د مالي ستونزو سره سره موږ څنګه وکولای شو دغه فيستوال تنظيم کړو.

په تيرو وختونو کي موږ له بهرنی نړۍ سره اړيکه نه درلوده. د دې فرصت څخه په استفادي سره زموږ ځوانانو او فلم جوړونکو وکولای شوای چي له بهرنيو فلمونو سره سيالي وکړي. او دا زموږ د وضيعت نتيجه ده. دا د بيان د آزادي پايله هم ده. هيڅوک زموږ په فلم جوړوونکو زور نه اچوي چي د دوي کار تر اغيزې لاندې راولي.

د دې فيستوال د جوړولو يوه پايله دا ده چي زموږ په لاسونو کي ده او نړيوال يي ويني زه د پوښتنو اوريدو ته تيار يم. زه به اوس زما همکار ته وار ورکړم چي تاسو ته د فيستوال په باب معلومات درکړي.

**بصیر حمیدی**
زه به په دی هکله لنډي خبری وکړم. څرنګه چي تاسي پوهیږئ په نړۍ کي او همدارنګه په ګاونډیو هیوادونو کي خپل دودیز پروګرامونه لري، چي په هغه کي د فلمونو فستیوال هم شامل دي او موږ غواړو چي د سږ کال د فستیوال دغه پیښه په ښه ډول ولمانځو. زه غواړم چي د انجنیر لطیف د خبرو په تایید زیاته کړم چي هر کله چي موږ د بهر څخه مرستی تر لاسه کړی چي د ظرفیت پر لوړولو باندی ولګوو، نو دا په موږ پوری اړه لري چي ظرفیت په څه ډول وکاروو.

د تیر کال په پرتله چي موږ ۵۶ فلمونه د فستیوال لپاره درلود، سږ کال موږ د دننه او بهر څخه د فستیوال لپاره ۱۴۰ فلمونه تر لاسه کړي دي. دا ځکه چي موږ اوس ډیر زیات فلم جوړونکي لرو، موږ علاقه لرو او زموږ سره دا زړه ورتیا شته چي فلمونه تولید کړو. زه تاسی هڅوم چي ټول دا فلمونه وګورئ ځکه چي دا ټول ډیر په زړه پوري فلمونه دي. د دغه فستیوال ټول مشرتابه او راغوندونکي، حکمان او بورد چي دغه فلمونه یي انتخاب کړیدی، خپل ټول کوښښ یي کړیدی چي دغه فستیوال یوه بی نظیره فستیوال جوړ کړي او تاسی به ډیر ژر د هغه شاهد ووسئ.

د سږ کال فستیوال یو ډیره مهمه برخه دا ده چي موږ کوښښ کوو چي رسنیو ته ډیر معلومات او مواد برابر کړو. د فستیوال په اړوند سمعی او بصری مواد برابر کړو تر څو رسنی او ژورنالستان هلته ولاړ شی او د فلم د فستیوال څخه زیاته یوه او د هغه په هکله له مخکي ښه معلومات ولري. ځکه چي دا د نورو فستیوالونو څخه جلا دی. په تیر وخت کي موږ یوازی د فستیوال پر مهال یو یاددښت (بروشور) ګډونکوونکو ته ویشل. دا ځل موږ زیار ایستلی چي د فستیوال په اړوند په کافی اندازه معلومات په پښتو، دری او انګریزی ژبو تیار کړو تر څو ژورنالستان په زیات تیاری سره فستیوال ته ورشی.

**پوښتني او ځوابونه**

**بي بي سي:** لکه څنګه چي تاسي خبر یاست نږدې ۲۰۰۰ تنه داخلي بېځایه شوی کسان له هلمند څخه لښکرګاه او کابل ته راغلي دي. زما پوښتنه دا ده چي آیا نړیوال خوراکي پروګرام له دي کسانو سره مرسته کړې ده او که نه؟ زما دوهمه پوښتنه له انجنیر لطیف څخه ده. افغاني سینما څنګه کولای شي له داسي فلمي فیستوال څخه ګټه واخلي او څو افغاني فلمونه په فیستوال کي وښودل شي؟

**یوناما:** راپورونه وايي چي نږدې ۲۰۰۰ کورني د هلمند د ۶ ولسوالیو څخه بېځایه شوي دي. د طبعی پیښو سره د مبارزی ولایتی کمیټه د بشری چارو د موسسو څخه غواړی چي خوراکی او غیر خوراکی توکي د څه ناخه ۵۰۰۰ کورنیو لپاره ځای په ځای شي. یوناما او د ملګرو ملتونو د بشری چارو د همغږی سازمان د اوضاع به ارزونه بوخت دي او بشری اوضاع د نږدی څخه څاري.

**انجنیر لطیف:** کله چي یو هیواد او یا سنماتوګرافر د فلمونو فیستوال ننداري ته وړاندې کوي په دي کارسره هغه خپل کفایت او وړتیا ښیي. د خوشبختۍ خبره ده چي افغاني سینما اوس دغه ډول وړتیا لري او د دې ډول فلمونو جوړول به د افغانستان د سینما صنعت ته پرمختګ ورکړي. په ډیرو هیوادونو کي سینماګاني هم نشته او د فیستوال خبره خو لا په ځای پریږده. لکه څنګه چي ښاغلي بصیر وویل د افغاني فلم جوړوونکو شمیر زیات شوی دی او دوي دی ته هڅول شوي دي چي په فلمونو کي افغاني کلتور او دودونه څرګند کړي.

**نور تلویزیون:** د رایه اچوونکو د جعلي کارتونو په باب اندیښني شته. موږ پخپله ورمه ورځ ۵۰۰ د رایو کارتونه ولیدل او اروپا هیئت هم ۲۰۰۰ داسي کارتونه لیدلي دي، د یوناما دریځ په دي باب څه دی؟

**یوناما:** دا مهمه ده چي وویل شی که داسي پیښي ولیدل شي نو د ټول ټاکنو د شکایاتو کمیسیون باندی ورته زیر ګرای شي. د دې لپاره چي ټاکني شفافي او با اعتباره پاتي شي دا په دې هیواد کي د هر یوه مسوولیت دی چي د هغه لپاره کاروکړي.

**سبا تلویزیون:** په هیواد کي د نا امنی په باب راپورونه شته. تاسي فکر نه کوئ چي دغه نا امني به په هیواد کي د رایو په مرکزونو اغیزه و نه کړي؟ موږ د خاص استازی په وینا کي ولیدل چي ده له کمپاین کوونکو

ځخه غوښتي چي په کمپاین کي له اغوا کوونکي ژبي ځخه کار و نه اخلي. ملګري ملتونه په دې باب څه کوي؟

**یوناما:** امنیتی اوضاع داسی یو څه ده چي موږ ټول یی وینو. او په حقیقت کی یو نږدی همغږی د ټول ټاکنو د بیلابیلو امنیتی اړخو لپاره روانه ده چي دا د کاندیدانو د امنیت، د ټول ټاکنو د ټوکو د ویش او د رای ورکوني د مرکزونو د امنیت برخي په بر کی نیسي.

د نوماندانو د ژبي په باب چي دوی یي په کمپاین کي کاروي باید ووایم چي د خاص استازی له خوا په دې باب د چلند تګلاري تر عنوان لاندي لارښووني خپري شوي چي موږ په ټاکنو کي له ټولو خواوو ځخه د هغو د مراعات کولو تمه لرو. او په هغه کی په ځرګنده ډول د هرچا ځخه تمي ذکر شوي دي.

**کلید ګروپ:** زه غواړم چي پوه شم چي دغه فیسټیوال به تر څو مودي پوري دوام وومومي، او څو فیلمونه به په کي ننداري ته وړاندي شي؟ له کومو هېوادانو؟ اوسه پوري کوم هیوادونه په کي برخه اخیستي ده. د دې فیسټیوال بنه پایله به څه وي.

**انجینر لطیف:** د هغو هیوادونو په اړه چي ښایي دې فیسټیوال کي برخه واخلي، مونږ به د سیمي له هیوادونه ځخه به میلماني ولرو چي په هغوی کي ایران، پاکستان، هند، او تاجیکستان شاملي دي. سربېره پر دې مونږ به د فرانسي، جرمني، انګلستان، او هسپانیي ځخه به هم برخه وال ولرو او کوم فیلمونه چي ننداري وړاندي کېږي اکثره معلوماتي فیلمونه به وي.

د دې فیسټیوال د پایلي په اړه باید ووایم چي په دې کار سره دوی دا ځرګندول غواړي چي دوی افغانستان سینما ته په درانه سترګه ګوري.

اوسه پوري مونږ ۱۴۰ فیلمونه تر لاسه کړي دي چي له هغي جملي ۲۷ افغاني فیلمونه دي، ۲۵ د سیمي له هیوادونو ځخه راغلي دي چي په ټولیزه توګه ۵۲ فیلمونه ننداري ته وړاندي شي.

**د آزادی راډیو:** پوښتنه په دی هکله ده، زه غواړم چي د افغانستان د سینما د پرمختګ په هکله چي مخکی په دی اړوند خبری وشوي وپوښتم، یوازی غواړم و پوښتم چي کوم ډول پرمختګ، پداسی حال کي مارکیټ هم هغه مارکیټ دي او تر اوسه دغه پرمختګ په ټولنه کي خپله لاره موندلی ده؟

**انجنیر عبدالطیف:** موږ په افغانستان کي دوه ډوله سینما لرو. یو تجارتی سینما ده چي په هغه کي جنګی فلمونه شامل دي. ده هغه شی دی چي موږ د هغه ځخه مخنیوی نه شو کولای، ځکه اوس د بیان آزادی حاکمه ده او موږ نه شو کولای چي داسی فلمونه بند کړو.

دوهمه سینما مسوله سینما ده چي هغه د نړیوال فلمونه د فستیوال سره اړیکه لري، چیرته چي دوي خپل فلمونه د سیالی لپاره استوي. تاسی سم وفرمایل د دغه فلمونه پر سر په ټولنه کي یو ډول بی اعتمادی پیدا شوي. دلیل یي دا دی چي کله چي دوي داسی فلمونه تولیدوی د هغوي پر سر پیسی مصروفوي خو دا ډول فلمونه د ژوند لپاره مضر دي او کله چي دوي غواړي چي دغه ډول فلم ننداری ته وړاندی شی نو دوي په بدل کي پیسی غواړي. دا هغه پرودیوسران دي چي موږ دوي سره کار کوو او غواړو چي د دی لپاره یوه لاره ومونډو.

-----------------------------------